# د افغانستان اسلامي امارت

## د پلټنې عالي اداره

## د ښاریانو لپاره د پلټنې راپور

### د اسیکوډا  سیسټم د معلوماتی ټکنالوجئ د پلټنې راپور



### آیا تاسو پوهیږئ!

په افغانستان کې د پلټنې د عالي ادارې په نوم یوه اداره شتون لري چې مشري يې د عمومي رییس لخوا کیږي او د قانون له مخې دغه اداره د ټولو دولتي ادارو د پلټنې واک لري.

## د معلوماتي ټکنالوجی پلټنه څه ده او د معلوماتي ټکنالوجۍ د پلټنې راپور کوم موضوعات بیانوي؟




**د معلوماتي ټکنالوجی پلټنه د پلټنې یو ډول دي چې په پراخه توګه لاندې مسایل پوښي !**

- ایا دولتي اداري او تر پلټني لاندې اداري د محرمیت، بشپړتیا او لاسرسي اصولو ته په پام کي نیولو سره د معاصرې معلوماتي ټکنالوجۍ سېستم تطبیق او پلي کوي؟
- ایا د معلوماتي ټکنالوجۍ سیستمونه د اداري د اهدافو سره سم اغیزمن اومؤثر کار کوي؟
- ایا په دفترونو کې د سېستمونو فعالیتونه او کړنې د مناسبو معیارونو سره سم دي؟ د نه تطبیق (پلي) کیدو په صورت کې کوم عوامل د انحراف لامل کیږي او په ساحه کې کومې ستونزې شتون لري؟
- ایا د عامه سکتور معلومات چې د دولتي ادارو لخوا راټول شوي؛ ایا دا خوندي دي؟
- ایا د معلوماتي سېستمونو کنټرول او د بریښنایی حکومتدارۍ زیربناوې په اغیزمنه توګه ډیزاین (طرحه) شوي؟
- ایا د معلوماتي ټیکنالوژۍ سېستمونه کوم چې د پلټنې لاندې دي د حکمونو او فرمانونو په پام کې نیولو سره ډیزاین (طرحه) شوي؟

- ایا د معلوماتي ټکنالوجۍ سېستمونه د سازمانونو اړتیاوو ته ځواب ویونکي دي؟

## د پلټنې عالي اداره د کومو ادارو پلټنه کوي؟

**د پلټنې عالي اداره د دولت د عامه سکتور ټولو بودیجوي او غیرې بودیجوي واحدونو پلټنه کوي.**

- **د اسلامي امارت اړوند بنسټونه، د قضایه قوې اداره او لوې څارنوالۍ دفتر.**
- **وزارتونه، ریاستونه، خپلواک دفترونه، کمېسیونونه، مرکزي او ولایتي دفترونه، د عوایدو بنسټونه او په بهر کې دولتي ماموریتونه(سفارتونه).**
- **ښاروالۍ، شرکتونه او دولتي تصدۍ او حلال احمر (سره میاشت).**
- **هغه ادارې چې عامه بودیجه او عامه ملکیت لري او ګټه ترې اخلي.**

## د معلوماتي ټیکنالوژۍ پلټنه کې پلټونکی د لاندې مواردو (قضیو) پلټنه او ارزونه کوي:

- د ټکنالوجۍ چاپیریال ته د لاسرسي ارزونه، زیربنا، پالیسي، میکانیزم، د معلوماتي ټکنالوجۍ طرزالعملونه، د معلوماتي سیسټمونو کاري بهیر، د معلوماتو تحلیل، د معلوماتي سیسټمونو په جوړولو سره د سازمان موخې ترلاسه کول.






- آیا منطقي لاسرسی (چې کارکونکي یې د خپلو دندو له مخې معلوماتي سیسټمونو ته لاسرسی لري) ایا اغیزمن کارونکي دي؟

- ایا د معلوماتي ټکنالوجۍ زیربناوې خوندي دي؟


- پلټنه د لاسرسي، محرمیت، د معلوماتو بشپړتیا، د محرمیت ساتنه، او پیژندنه د پنځو اصولو څخه یو یا کوم یو باندې تمرکز کوي.
- دسیستم داخلي کنټرول، کاري سیستمونه او د معلوماتو ته لاسرسی، محرمیت او بشپړتیا په ترلاسه کولو کې د دوی اغیزمنتوب.

- ایا معلوماتي سیستمونه د نافذه قوانینو سره سم او د اغیزمنتیا او مؤثریت اصولو په پام کې نیولو سره طرح (ډیزاین) شوي او پلي شوي دي؟

## عمومي سر پلټونکی معمولا د معلوماتي ټکنالوجی د پلټنې پایلو سره څه کوي؟

| | | |
|---|---|---|
|  | **د پلټنې پایلې** | • د معلوماتي ټکنالوجی د پلټنې پایلې د پای ته رسیدو دمخه د پلټنې عالي اداري مشرتابه سره شریکې کیږي ترڅو د دوی نظرونه او ځوابونه ترلاسه کړي. |
| | **د معلوماتي ټکنالوجی د پلټنې راپور** | • د معلوماتي ټکنالوجی د پلټنې راپورونه په جلا توګه ریاست الوزراء ته سپارل کیږي ترڅو دا پلټنې ریاست مکلف کړي چې په تطبیق کې يې سمون راولي او د پایلو حکمونه پلي کړي.<br>• همدارنګه د پلټنې د حکمونو د پلي کولو(تطبیق) او بشپړولو په موخه د معلوماتي ټکنالوجی د پلټنې د راپور یوه کاپي هم د پلټنې عالي اداري ته استول کیږي، پلټل شوې اداره مکلفه ده چې د پلټنې سپارښتنې پلي(تطبیق) کړي او د پلټنې عالي اداري ته ډاډ ورکړي. |

## ولې د معلوماتي ټکنالوجۍ پلټنه او راپور ورکول مهم دي؟



د پلټني د عالي اداري قانون له عمومي مؤظف شوي پلټونکي څخه غواړي چې د معلوماتي ټکنالوجی پلټنه ترسره کړي او وړ چاروا‌کو ته یې راپور ورکړي.

د پلټني د عالي اداري په قانون کې مشخص شوي دي چې د پلټني هدف د معلوماتي ټکنالوجۍ د زیربناوو پلټنه او ارزونه ده، د دې پورې اړوند پالیسۍ او عملیات او د معلوماتي ټکنالوجی کنټرول څرنګوالی، د معلوماتو بشپړتیا  او د اړونده اداري سره په همغږۍ د دوې عمومي هدف ټاکل دی.

د معلوماتي ټکنالوجی پلټنه یوه خپلواکه او هدفمنده پروسه ده چې د پلټني عالي اداري پلټونکي د یوې اداري د سیستمونو، شبکو او بریښنایی پروسو د خطرونو پیژندلو لپاره تشخیص کوي.

د معلوماتي ټکنالوجی پلټنه د داخلي سیستمونو کنټرول، د معلوماتي سیستمونو ارزونه ده ترڅو د مالي پلټني موخې ترلاسه کړي، د کړنو(عملکرد) پلټنه،او د قوانینو او مقرراتو پلټنو سره مرسته وکړي، او د معلوماتي ټکنالوجۍ پلټونکی هم د مشورې لپاره د اړوند چارواکو لخوا ټاکل کیږي. تر څو خطرونه و پیژندل شي او د خطرونو(زیانونو) د کمولو لپاره د اړوند اشخاصو په همکارۍ لازمی کړنی تر سره کړي.

### د معلوماتی ټکنالوجی د پلټني راپور

## د ماليي وزارت د عوايدو او ګمرکونو معينيت د اسيکوډا د سيستم پلټنه کول.

### زموږ په پلټنه کې کوم موضوعات او مسلې پوښل شوي؟

د دې پلټني اصلي موخه د ماليې وزارت د عوايدو او ګمرکونو د ايسکوډا سيستم چک کول دي:

۱. د عمومي معلوماتي ټکنالوجی سيستمونو کنټرول او اغيزمنه ارزونه؛

۲. دمعلوماتي ټکنالوجی سيستمونو په جوړولو کې د قوانينو، مقرراتو، لارښودونواو داسی نورو مواردو (قضيو) سره ډاډ ترلاسه کول.

۳. د بشپړتيا، محرميت او معلوماتو ته د لاسرسي ډاډ ترلاسه کول.

٤. د پلټنې لاندې ادارو د اهدافو ترلاسه کولو لپاره د معلوماتي سېستمونو اغيزمنتوب او مؤثريت څخه ډاډ تر لاسه کول

٥. د بريښنايی حکومتولۍ پلي(تطبيق) کول

٦. ډاډ ترلاسه کول چې څنګه د عامه شتمنيو محافظت(ساتنه) او د پلټني لاندې اداراو کورنی او بهرني معلوماتو ، سافټويرونو ، هارډوير ساتنه او اداره وشی.

### هغه موارد(قضيي) چې د پلټني تر پوښښ لاندی دی:

د پلټني عالي اداره، د معلوماتي ټکنالوجی د پلټني له مخې، د ايسکودا سېستم، د ماليې محترم وزارت، د معلوماتي ټکنالوجی حکومتولۍ کنټرول (IT Governance) د (مرجع په سطحه)، د منطقي لاسرسي کنټرول ، ( Logical Access Control) ، د بدلون مديريت، معلوماتي تکنالوجی فعاليتونه (IT Operation) ، د دوهمي درجی شرکتونو سره تړونونه د معلوماتو ساتنه (Information Security) ، د غوښتنليک کنټرولونه( Application Control) معاينه شوي او د ۱۳۹۹ څخه تر ۱۴۰۱ هجری شمسي کاله پورې د معلوماتو تحليل هم د داخلي سيستمونو د کنټرولونو پيژندلو په موخه تر سره شوي دي.

### کوم مواد د معلوماتي ټکنالوجی د پلټني معياري سرچينو په توګه کارول شوي؟

۱. د پلټني عالی اداري قانون
۲. د ګمرکونو قانون
۳. د مالياتو د اداري قانون
۴. دنړيوالو ادارو د پلټني ۵۱۰۰ معيار
۵. د کوبيټ ۲۰۱۹ معيارونه

۶. د نیسټ (**Nist**) معیارونه
۷. د ۲۷۰۰۰ لړۍ معیارونه

## موږ څه وینو او څه لټوو؟



- ✓ د معلوماتي ټکنالوجی سیسټمونو په پلي(تطبیق) کولو کې د عصري ټکنالوجی ، پالیسیو، میکانیزمونو، او رسمي طرزالعملونود استعمال ډاډ تر لاسه کول.
- ✓ د معلوماتي ټکنالوجۍ په سیسټمونو کې د معلوماتو خوندیتوب ډاډمن کول
- ✓ د معلوماتي ټکنالوجی سیسټمونو مؤثریت او فعالیت ډاډمن کول
- ✓ د معلوماتي ټکنالوجۍ د سیسټمونو د پراختیا په جریان کې د قوانینو او معیارونو سره موافقت یقیني کول
- ✓ د معلوماتي ټکنالوجی سیستمونو د داخلي کنټرول اغیزمنی استفادي څخه ډاډ تر لاسه کول
- ✓ د ایسیکوډا سیستم کې د داخل شوي معلوماتو بشپړتیا یقیني کول
- ✓ د ایسیکوډا سیستم کې د فزیکي مالي اسنادو سره د داخل شوي معلوماتو پرتله (تطبیق) کول
- ✓ د ایسکوډا سیسټم د معلوماتو د سمولو او بشپړتیا ډاډ ترلاسه کول
- ✓ د غیری مجازی کارمندانو د اسیکوډا سیسټم ته د لاسرسی ډاډ تر لاسه کول
- ✓ د ایسکوډا سیسټم د نیمګړتیاو او ننګونو د حل لپاره سپارښتنی کول.

**د معلوماتي ټکنالوجی د پلټني راپور د خپلو حکمونو او موندنو په ګډون د افغانستان اسلامي امارت عالي مقام ته وړاندې کیږي.**

## موږ په اوسنۍ پلټنه کې څه وموندل؟



| | |
|---|---|
| **د قراردادي کارکونکو لپاره د ټرونونو نشتوالی** | د اسیکوډا د سیستم تخنیکی کارکونکي چی د سیستم تخنیکی مدیریت مسولیت بر غاړه لری او همدا قراردادی کارمندان د ددی سیستم د مدیریت وړتیا هم لری. خو د ذکر شوو کارمندانو ټرونونو د عواید او ګمرکونو معینیت د بشری سرچینو ریاست مربوط دی چون دوی د ټول سیستم مدیریت او کنټرول د همدوی کارمندانو په لاس کی دی خو اړوند ریاست ته ځواب ویونکی نه دی. |
| **نا ورکړل شوې پیسی (Un paid Statements)** | د اسیکوډا سیستم د راپور د ارزوني له مخی جوته شوه چي (۵۷۷۴) اعلامیي په ټولیزه توګه(1,018,475147) یو میلیارد اتلس میلیونه څلور سوه پنځه اویا زره یو سل اووه څلویښت افغانی کیږي، چی (۵۳۹) شرکتونو ، انفرادي سوداګرانو او همدا رنګه (۲۹) دولتي او غیردولتي ادارو ته پیسی نه دي ورکړل شوي او پوره وړی دي. |
| **د دولسم ۱۲ څپرکی عوایدو او د اسیکوډا سیستم تر منځ توپیر** | د عایداتو د ټاکلو دقطعیی د ۱۲ فصل د پلي کولو(تطبیق) له امله (له وجي) د ۱۳۹۹ مالي کال څخه تر ۱۴۰۰ مالي کال پوري او د ۱۴۰۰ کال دری میاشتی جدي، دلو، حوت ربع کی ، د اسیکوډا سیستم د داخلولو د راپور سره سم، ۸۴،۹۷۵،۹۴۳،۸۱۱ څلور اتیا ملیارده، نهه سوه پنځه اویا میلونه، نهه سوه دری څلویښت زره، او اته سوه یوولس افغانی توپیر لري. |
| **د معلوماتي ټکنالوجۍ ستراتیژیک پلان نشتون** | د پلټني عالی اداری توظیف شوی پلټونکي د پلټنو په اساس دا څرګنده کړه چی د عوایدو او ګمرکونو معینیت کوم جامع او منظم ستراتیژیک پلان نه لری. |
| **د معلوماتو د خوندیتوب د پالیسی نشتون** | د پلټني په دوام کې، دا معلومه شوه چي د ګمرکونو ریاست د معلوماتي ټکنالوجی سیستمونو لپاره د معلوماتو د خوندیتوب ځانګړي پالیسي نلري. |
| **د معلوماتي ټکنالوجۍ د مشرتابه یا اجرائیوي کمیټي نشتوالی** | اجرایوي کمیټه یوه کمیټه ده؛ کومه چي د معلوماتي ټکنالوجی د پلانونو د لومړیتوبونو سره سم د معلوماتي ټکنالوجی څارنه او د فعالیتونو پلي کول تضمینوي، او همدارنګه د ستراتیژی پلان سره سم د ګمرکی سیستمونو د ریاست د فعالیتونو پلي کول ډاډمن کوي او وړ چاړواکو(مقام) ته راپور ورکوي. له همدې امله، یاده کمیټه باید د یوه چاړواکي (مالي او اداري مرستیال یا د وزارت وړ استازي) له خوا رهبري شي، ترڅو د اړتیا وړ سرچینې (بشري او مالي) تخصیص کړي. په هرصورت، دا د یادې کمیټي د د ګمرکی عوایدو په معینیت کي نه دی رامینځته شوی. |
| **د خطر د ارزوني او مدیریت نشتوالي** | د خطر ارزوني میکانیزم یو میکانیزم دی؛ کوم چي د معلوماتي ټیکنالوژی د سیستمونو احتمالي خطرونه پیژني، تحلیل او ارزونه یی کوي. مګر د ګمرکونو په ریاست کی د ایسکوډا سیستم د خطرونو تحلیل، پیژندلو او مخنیوي لپاره کوم تایید شوی میکانیزم شتون نلري. |
| **د پلان نشتوالی او د پیښو ته د رسیدو او مقابلې لپاره د کمیټې ټاکل** | د پیښی د څیړنی کمیټه یوه کمیټه ده کومه چي د پیښو (سایبر بریدونو) د رامنځته کیدو په وخت کي د مخکینیو تصویب شوي پلانونو سره سم عمل تر سره کوي، اوهمدارنګه د سایبر بریدونو لاملونه او عوامل په ګوته کوي. خو د پلټني په جریان کي معلومه شوه چي د ګمرکونو ریاست د پیښو د مخنیوي لپاره کوم پلان او کمیټه نلري. |
| **د بدلون د مدیریت پالیسی نشتون** | د معلوماتي ټکنالوجی سیستمونه په ادارو کي له پلي کیدو وروسته (د مالیي وزارت) بدلونونو ته اړتیا لري ترڅو د سازمان د مقرراتو او کاري میتودونو سره سم سیستمونه تنظیم کړي؛ لکه څنګه چي غوښتونکی د سیستم په فعالیت کي د بدلون لاملونه بیانوي او واک ته وړاندیز کوي او د باصلاحیته چاړواکو له تصویب وروسته په سیستم کي بدلونونه د پروګرام جوړونکي یا پراختیا کونکي لخوا پلي کیږي. د معلوماتي ټکنالوجی په سیستمونو کي د بدلونونو پراوونه اړتیا لري چي د عوایدو او ګمرکونو په ټاکلو کي د بدلون مدیریت پالیسي ترتیب او پلي شي. خو د ګمرکونو ریاست دغه پالیسي نه لري. |
| **د پاچ (patch) مدیریت د پالیسی نشتون** | د عملیاتي سیستم پچونو (patch) راجستر کولو، ارزولو، نصبولو لپاره د پچ (patch) مدیریت د پالیسی نشتوالی. دا هم امکان لري چي په سرورونو کي د پچونو (patch) د نشتوالي له امله په شبکه کي خلا شتون ولري ، او په شبکه او سیستم کي د سایبر بریدونو احتمال ډیریږي. |
| **د فعالیتونو د دوام پلان (BCP) او د فاجعي د جبران راګرځولو پلان (DRP)** | دولتي اداری چي د معلوماتي ټکنالوجی سیستمونه کاروي باید د فعالیتونو د دوام او په ناځاپي حالتونو کي د ناورین (فاجعي) را منځ ته کیدو لپاره پلانونه ولري (زلزلې ... او داسي نور) |

| | |
|---|---|
| | ،ترڅود معلوماتي ټکنالوجۍ سیستمونه په عادي ډول فعالیت ترسره کړي. مګر د ګمرکونو ریاست د فعالیتونو د دوام پلان (BCP) او د ناورین د بیا رغوني پلان (DRP) نلري. |
| **د سیستم ډیزاین (طرح) او نصبولو پالیسۍ نشتوالی (SDLC)** | د نړیوالو معیارونو سره سم د معلوماتي ټیکنالوژۍ ټول سیستمونه د کاروونکو اړتیاو راټولولو، پلانونو او ډیزاینونو، د معلوماتي ټکنالوجۍ سیستمونو تطبیق او آزموینې په څیر ګامونه تعقیب او تیر کړي ترڅو ډاډ ترلاسه کړي چې پرمختللی سیستمونه د اړوند اداري اوسني اړتیاوې پوره کوي. د دې پر بنسټ، د معلوماتي ټکنالوجی سیستمونو (SDLC) ډیزاین او نصبولو لپاره لیکل شوي پالیسي تنظیم او پلي کولو ته اړتیا ده. خو د پلټنو په ترڅ کې معلومه شوه چې د عوایدو او ګمرکونو معینیت پورتنۍ پالیسي نه لري. |

## زمونږ پایله:

د ګمرکي سیستم ریاست یو مهم ریاست دی کوم چې د عوایدو او ګمرکونو معینیت په چوکاټ کې شامل دی، چې د مالیې وزارت د پرمختیایي پلان سره سم د ګمرکونو د معلوماتو د سیستم د پراختیا او د ګمرکي کارکوونکو د ظرفیت د لوړولو او حکمي او حقیقي اشخاصو چې د ایسکوډا سیستم کاروي دا ریاست یې مسوؤلیت په غاړه لري.

د یادونې وړ ده، چې یاد شوی سیستم د قراردادي د کارکوونکو له خوا اداره کېږي او هغه کارکوونکي یې چې نوي ګمارل شوي، په بشپړه توګه تخنیکي او مسلکي زده کړې نه دي کړي او دا کار د دې لامل شوی، چې د قراردادي کارکوونکو په نشتون د ذکر شوي سیستم څخه په سمه توګه ګټه نه شي اخیستلای.

له همدې امله، د اسیکوډا سیستم د راپور او د قطیعیي په ۱۲ فصل کې د ۱۳۹۹ مالی کال نه تر ۱۴۰۰ مالی کال او د ۱۴۰۰ کال دري میاشتي جدي، دلو، حوت او د ۱۴۰۰ مالي کال د ایسکوډا سیستم په راپور کې ۸۴،۷۹۵،۹۴۳،۸۱۱ څلور اتیا ملیارده،اوه سوه پنځه نوی میلونه،نهه سوه دری څلويښت زره، اته سوه یوولس افغانۍ توپیر لري.

د پورتنیو قضیو سربیره، د ایسیکوډا سیستم د راپور لپاره د (۵۷۷۴) اعلامیو په شمیر کې چې ټولټال ۱،۰۱۸،۴۵۷،۱۴۸ یو میلیارد اتلس میلیونه څلور سوه پنځه اویا زره یو سل اووه څلويښت افغانۍ کیږي همدارنګه (۵۳۹) شرکتونواو انفرادي سوداګرو او (۲۹) دولتي او غیردولتي ادارو ته پیسي نه دي ورکړل شوي او پوروړي دي.

د دې تر څنګ د ګمرکی سیستمونو په ریاست کې قراردادی مامورین اړ دی چې ورځنی یا عادی کارونه ترسره کړی، خو د ګمرکي سیستمونو ریاست د قراردادی مامورینو له مکلفیتونو او مسوؤلیتونو څخه نا خبره دي، نو د قرارداد پر بنسټ د قراردادي کارکوونکو مسوؤلیتونه څه شی دي؟ او کوم فعالیتونه په سیستم کې ترسره کولی شي؟ دا مسله له یوې خوا د مدیریت کمزورتیا په ګوته کوي او له بلې خوا د تخنیکي کارکوونکو تخنیکي او مسلکي ناتوانایي بلل کیږي.

د ګمرکونو ریاست ستراتیژیک پلان نه لري چې د ستراتیژیکو پلانونو پر بنسټ له منابعو څخه کار واخیستل شي او د معلوماتو د خوندیتوب پالیسی سره سم د قراردادي او رسمي کارکوونکو د اغیزمني استفادي او لاسرسي لپاره د اطلاعاتو د خوندیتوب پالیسي جوړه شي.

همدارنګه د عوایدو او ګمرکونو په معینیت کې تر اوسه پورې اجرایوي کمیټه نه ده جوړه شوی. د یادونې وړ ده چې په یاد شوې معینیت کې د خطرونو د ارزونې سند شتون نه لري، د ناڅرګندو پېښو او رسمي موخو لپاره د پلان او ګروپ نشتوالی، د برنامی د بدلون پلان نشتوالی، د پاچ (patch) مدیریت د پالیسی نشتوالی او د فعالیتونو د دوام پلان نشتوالی ددی لامل کیږي چې د نړیوالو شریکانو په نشتون کې سیستم غیر ګټور وي.

له همدې امله، اړتیا پیداکیږي؛ چې د مالی وزارت عواید د اسیکوډا سیستم دقطعیي د ۱۲دولسم فصل او حقیقی ارقامو پر بنسټ جوړیږي، یعنی ۱،۰۱۸،۴۵۸،۱۴۸ یو ملیارد اتلس میلیونه څلور سوه اوه پنځوس زره یو سل اته څلویښت افغانی له دولتي، غیردولتي دفترونو، شرکتونو څخه چي ترلاسه کیدی شي؛ ژر تر ژره راټول کړئ.

د ګمرکونو لوی ریاست د ستراتیژۍ پلان، د معلوماتو د خوندیتوب پالیسي، د اجرایوي کمیټي جوړول، د ارزوني او مدیریت پلان، او د ناځاپي پیښو دمدیریت پلان، د بدلون مدیریت پالیسي، پاچ (patch) مدیریت پالیسي، بیک اپ پالیسي، او د فعالیت د دوام پلان ترتیب کړي او دتصویب لپاره د وزارت مقام ته ولیږل شي.

د یادولو وړ ده چي د ګمرکونو محترم ریاست دي د رسمي کارکوونکو د ظرفیت د لوړولو لپاره هلي ځلي وکړي تر څو د قراردادي کارکوونکو په نشتوالي کي له سیستم څخه په اغیزمنه او ګټوره توګه کار واخیستل شي او د ایسیکوډا سیستم د ساتلو لپاره جدي اقدام وکړي.

## زمونږ سپارښتنې:

| | |
|---|---|
| ✓ د ګمرکونو د ریاست د موقتي کارکوونکو (بالمقطع) د قراردادونو ترتیب او د مالیي وزارت د بشري سرچینو ریاست ته سپارل. | ✓ د دولتي او غیري دولتی ادارو او شرکتونو چي په سیستم کي يي ۱،۰۱۸،۴۵۸،۱۴۸ یو ملیارد، اتلس میلونه څلور سوه اته پنځوس زره، یو سلو اته څلویښت افغانۍ (نه ورکړل شوی ) پیسي باید را ټولي شي. |
| ✓ د مالیي وزارت د عوایدو رسید باید د ایسیکوډا سیستم کي درج شوي اصلي ارقامو پراساس تنظیم شي او دا رسید د قطعیي په ۱۲ فصل کي منعکس شي. | ✓ د معلومـاتی ټکنالوجی اســـتراتیژیک پلان برابرول تر څو د ګمرکی سـیسـتمونو دریاسـت سـرچینی ، عوایدو معینیت او د افغانستان اسلامي امارت ګمرکونو په ښه توګه مدیریت شي. |
| ✓<br>✓ د معلوماتو د خوندیتوب او ساتنی لپاره د اطلا عاتو د خوندیتوب پالیسی برابره شی | ✓ د معلوماتي ټکنالوجی د رهبرۍ یا اجرائیوي کمیټي جوړول او د یادو کمیټو د غونډو تنظیمول. |
| ✓ د زیان ارزوني او مدیریت پلان او پالیسی برابرول او تصویب شي. | ✓ د ناځاپی پیښو ته د رسیدو او د مخنیوی لپاره د پلان برابرول او د ګروپ ټاکل. |
| ✓ د ګمرکي سیستمونو په ریاست کي د بدلون مدیریت پالیسی او اغیزمن کنټرول برابرول. | ✓ د پاچ (patch) د مدیریت پالیسی برابرول او تصوییول |
| ✓ د بک اپ پالیسی او طرزالعملونو برابرول او تصوییول | ✓ د سـیسـتم ډیزاین او نصـبولو پالیسـی (SDLC) برابرول او تصویب کول. |

# زموږ اضافه شوي ارزښتونه

## د پیسو موارد(قضیې)

په مجموعي ډول ۱,۰۱۸,٤٥۷,۱٤۸ یو ملیارد، اتلس میلیونه، څلور سوه او پنځوس زره، یو سل او اووه څلویښت افغانیو راتولول او د پور ورکوونکو هڅول او مجبورول ترڅو ذکر شوی پیسي راټولي شي.

## کیفیتي قضیې

د اتوماتیک او لاسي کاري پروسو د مدیریت څخه ډاډ ترلاسه کول

د نیمګړ تیاوو د تشخیص او د معلوماتی ټکنالوجی د داخلی کنټرول سیسټم د پیا وړتیا لپاره د اصلاحي سپارښتنو چمتو کول

د ریس الوزراء عالي مقام ته د معلوماتي ټیکنالوژۍ د پلټنې راپورونه چمتو کول او دولتي ادارو سره تعقیب کول او همدارنګه ښاریانو لپاره د پلټني راپور چمتو کول.

**ډاډ ترلاسه کول چي څنګه د پلټني لاندي ادارو د کورنیو او بهرنیو معلوماتو، سافټویر،هارډویر او د عامه شتمنیو ساتنه وشي**

**د پلټني لاندی ادارو د لومړنیو معلوماتو محرمیت (پټ) ساتلو کي د معلوماتي ټیکنالوژی څانګې کارکونکو له پوهي او پوهاوی څخه ډاډ تر لاسه کول.**

د افغانستان د پلټنې عالي اداره
اداره عالی تفتیش افغانستان
SUPREME AUDIT OFFICE OF AFGHANISTAN

# د پلټنې عالی اداره ®

## د ښاریانو لپاره د پلټنې راپور

**د اسیکوډا سیستم د معلوماتي ټیکنالوژۍ د پلټنې راپور**

مونږ روښتیا او حساب ورکونې ته ژمن یو